د سلسلهٔ قادریه رضویه عطاریه د اووم پیر او مُرشد ذِکر په نوم

# د فیضان امامِ موسیٰ کاظم رحمۃ اللہ علیہ

پښتو


- د کمال نه ډک خلمی 01
- چې څنګه ئې لقب هم هغه شان ئې ذات مبارک 07
- د دُعا د قبلیدو آزمائیلې شوې مقام 13
- د والدِ محترم نصیحتونه 17


د امام موسیٰ کاظم رحمۃ اللہ علیہ
مزار مبارک




پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیۃ (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فیضان

دُعائے عطّار: یا رَبِّ مصطفٰے ! څوک چې دا رساله "د امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فیضان" اولولي که واوري، د هغوئي او د هغوئي د اولاد د خپل خورږ او د تولو نه د آخري نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د آل او د صحابهٔ کرامو رښتوني مینه او بے حسابه بخښنه نصیب کړې۔

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د هر کار نه مخکښي دُرود شریف

شیخ یوسف بن عمر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: علمائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم په دې خبره باندې اتفاق کړے دے کوم کس چې کتاب لیکي نو د الله پاک د پاک نوم یعني بسمِ الله شریف نه پس دې د حُضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ذات مبارک باندې دُرودِ پاک لیکي۔ د کروړونو شافعیانو امام، حضرت امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه دا خوښووم چې انسان د خپل هر کار په شروع

کښې د الله پاک حمد او ثنا (یعني تعریف او توصیف) بیان کړي او د هغه په خوږ خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درود اولولي-

(مطالع المسرات، ص 7، 11)

نبی کا نام ہے ہر جا خدا کے نام کے بعد
کہیں درود سے پہلے کہیں سلام کے بعد

(فرش پر عرش، ص 62)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د کمال نه ډک ځلمے

حضرت شقيق بَلخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې زه د حج د پاره روان شوم نو زمونږه قافِله په "مقامِ قادسِيّه" کښې حصاره شوله- هلته نور هم عازمينِ حج [یعني حج له تلونکي] وو، ډيره ښکلې نظاره وه، ما به چې دوئي ته کتل نو خوشحاليدم به چې دا خوش قسمته خلق د سفر وغيره تکليفونه برداشت کوي او د خپل پاک پروردګار د رضا په خاطر د حج کولو د پاره روان دي- ما د الله پاک په بارګاه کښې عرض اوکړو: اے زما خوږ خوږ الله پاکه! دا ستا د بنده ګانو ډَله ده، ته دوئي ناکامه مه راليږه- بيا ما يو ځلمے اوليدو د کوم غنم رنګي مخ چې داسې ځليدو چې سترګې ئې د مخ نه نهٔ اوريدلې- هغه د وَړئ جامې اغوستې وې او په سر باندې ئې عمامه [پټکے] وو- هغه د خلقو نه بالکل ځانله ناست وو- زما په زړه کښې وسوسه راغله چې دا خپل ځان صوفي ظاهرول غواړي د پاره د دې چې خلق د ده تعظيم اوکړي، ما په زړه کښې اووئيل چې په الله پاک مې دې

قسم وي چې زه به خامخا د ده نګراني کووم بيا چې څنګه زه د هغه خوا له لاړم، نو هغه ماته اوکتل او زما نوم ئې واخستو او د 26 سيپارې د سورة الحجرات، 12 نمبر آيت ئې تلاوت کړو:

اِجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ ۫ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ

(پ 26، الحجرات: 12)

ترجَمۂ کنزُ الا یمان: د ډيرو ګمانونو نه بچ اوسئ بے شکه څه ګمانونه ګناه کبيرې-

د دومره وئيلو نه پس هغه زه هلته پريښودم او رخصت شو، ما په زړه کښې اووئيل: چې دا خو ډيره عجيبه معامله ده چې دا ځلمے زما د زړه د خبرې نه خبر شو او زه ئې په خپل نوم راوبللم حالانکه زما د ده سره چرته ملاقات هم نه دے شوے- دا خامخا د الله پاک قبول شوے [يعني الله پاک ته نزدې] بنده دے ما هسې د ده په باره کښې بد ګماني اوکړه، زه به خامخا د دې ځلمي سره ملاقات کووم او بخښنه به ترې غواړم- زه په تادئ سره په دغه ځلمي پسې روان شوم خو د ډير کوشش نه پس مې هم هغه اونه موندلو- بيا زمونږه قافله په مقامِ "واقصه" کښې حصاره شوه، ما هغه ځلمے د لمونځ په حالت کښې اوليدو- د هغه ټول وجود رپيدلو او د سترګو نه ئې اوښکې بهيدلې- ما هغه اوپيژندلو او لاړم د هغه په خوا کښې کښيناستم د پاره د دې چې د هغه نه به بخښنه غواړم، د لمونځ نه چې فارغ

شو نو هغه زما طرف ته متوجه شو او اوئې وئیل: اے شقیقه! د 16 سیپارې د سورۀ طٰهٰ 82 نمبر آیت اولوله:

| | |
|---|---|
| وَاِنِّیْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰی ﴿۸۲﴾ (پ 16، طٰهٰ: 82) | ترجَمهٔ کنزُ الایمان: او بے شکه زه ډیر بخښونکے یم د هغه کَس چا چې توبه کړه او ایمان ئې راوړو او ښه کار ئې اوکړو او بیا په هدایت باندې پاتې شو۔ |

د دومره وئیلو نه پس هغه ځلمے بیا د هغه ځائے نه رخصت شو۔ ما اووئیل: دا ځلمے خامخا په اَبدالانو کښې دے۔ دوه ځله دا زما د زړه د خبرې نه خبر شو او زه ئې په خپل نوم سره راوبللم۔ زه د هغه نه ډیر زیات متاثر شوے ووم۔ بیا چې کله زمونږه قافِله په مقامِ "ربال" کښې حصاره شوه نو هغه ځلمے ما د یو کوهي په خوا کښې اولیدو۔ د هغه په لاس کښې د خرمنې یوه تهیلۍ وه او هغه د کوهي نه اوبه راویستلې۔ ناڅاپه د هغه د لاس نه هغه تهیلۍ کوهي ته اوغورځیدله، هغه ځلمي د الله پاک په بارګاه کښې عرض اوکړو: اے زما خوږ خوږ الله پاکه! کله چې ما تنده پریشانه کوي نو هم تهٔ زما تنده ماتوې، کله چې زه وَږے شم نو هم تهٔ ما له خوراک راکوې، زما د اُمید ځائے هم تهٔ ئې، اے زما خوږ خوږ الله پاکه! زما سره د دې تهیلۍ نه علاوه بَل هیڅ خیز نشته، ما له زما تهیلۍ واپس راکړه۔

حضرت شقیق بَلخي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: په الله پاک مې دې قسم وي! اوس لا د هغه ځلمي دُعا ختمه شوې هم نه وه چې د کوهي اوبه په بره راغلې۔

هغه ځلمي خپل لاس ور اوغزولو او تهيلۍ ئې راويستله او هغه ئې د اوبو نه ډکه کړه او بيا د کوهي اوبه بيرته ښکته شولې- ځلمي اودس اوکړو او لمونځ ئې شروع کړو- د لمونځ نه پس د شَګو د ډيري طرف ته لاړے- زه هم په پټه په هغه پسې روان شوم- هغه شګه اوچته کړه او په تهيلۍ کښې ئې واچوله او بيا ئې تهيلۍ اوخوزوله او په دې کښې ئې موجودې د شکو اوبه اوڅښلې- زه د هغه خوا له لاړم او سلام مې عرض کړو- هغه جواب راکړو- ما عرض اوکړو: اے نيک ځلميه! الله پاک چې کوم رزق تا له درکړے دے د هغې نه څه ما له هم راکړه- دا ئې چې واوريدل نو هغه جواب راکړو: الله پاک په خپلو بنده ګانو هر وخت فضل او کرم فرمائي، يوه لحظه هم داسې نه تيريږي چې په هغې کښې هغه پاک پروردګار په خپلو بنده ګانو باندې نعمتونه نه نازلوي، اے شقيقه! په خپل رَبّ باندې هميشه ښه ګمان ساتل پکار دي- د دومره وئيلو نه پس هغه ځلمي د خرمني هغه تهيلۍ ما له راکړه څنګه چې ما د هغې نه [اوبه] اوڅښلې نو هغه د خوږو [شَګرو] او د سَتو سره ګډې کړے شوې بهترينې اوبه وې- داسې د ښه خوند والا اوبه ما تر ننه پورې نه وې څښلې، ما ښه په مړه ګيډه اوبه اوڅښلې- زه حيران ووم چې اوس زما په مخکښې په دې تهيلۍ کښې شګه واچولے شوه خو د دې ځلمي د کرامت په وجه هغه شګه په ستّو او خوږو کښې بَدله شوه، د هغه برکتي شربت څښلو نه پس تر ډيرو ورځو پورې زه تږے او وَږے نه شوم-

بيا چې کله زمونږه قافِله مکې مکرمې ته اورسيدله نو هلته ما هغه ځلمے په يو ګوټ کښې د نيمې شپې د لمونځ په حالت کښې اوليدو- هغه ډير په

خشوع او خضوع (یعني د زړه او بدن په عاجزئ) سره لمونځ کولو او د هغه د سترګو نه اوښکې بهیدلې- هغه هم دغه شان د لمونځ په حالت کښې ټوله شپه تیره کړله، کله چې سحر شو نو هغه بیا هم په خپله مصله باندې ناست وو او د الله پاک پاکي ئې بیانوله، بیا د سحر د لمونځ کولو نه پس هغه طواف اوکړو او یو طرف ته روان شو زه هم په هغه پسې روان شوم- دا ځل زما د سترګو د وړاندې ډیره عجیبه نظاره وه ځکه چې د هغه مخې ته ډیر خلق لاس په نامه ولاړ وو او ګڼ شمیر خلقو د هغه لاسونه ښکلول او د سلام د پاره حاضریدل- ما د یو کَس نه پوښتنه اوکړه: چې دا عظیم ځلمے څوک دے؟ هغه جواب راکړو: دا حضرت سیدنا امام موسیٰ کاظم بن امام جعفرِ صادق بن محمد بن علي بن حسین بن علي عَلَیهِمُ الرِّضوَان دے- ما په زړه کښې اووئیل: چې دومره کرامات ظاهریدل هم د دې سید زاده د شان لائق دي، دا هغه هستیانې دي کومو له چې الله پاک دومره کرامات ورکوي- (عیون الحکایات (مترجم) ، 1/ 238 ) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تیری نسلِ پاک میں ہے بچہ بچہ نور کا
تُو ہے عین نور تیرا سب گھرانہ نور کا

(حدائقِ بخشش، ص 246)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب
صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# ولادتِ باسعادت او پیژندګلو

د اهلِ بیتِ نبوّت د چمن ښکلے ګل حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُاللّٰہِ عَلَیْه په 7 صفر المظفر 128ھ د نهي په ورځ د سحر په وخت د مکي مکرمي او د مديني منورې ترمينځه په ابوا علاقه شريف (چرته چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږې مور جانې حضرت آمنې بي بي رَضِىَ اللهُ عَنْهَا مزار شريف دے) کښې دُنيا ته تشريف راوړو- د هغوئي رَحْمَةُاللّٰہِ عَلَیْه مبارک نوم موسیٰ، کُنيت ابو الحسن او ابو ابراهيم او القابات صابر، صالح، امين او د ټولو نه مشهور لقب "کاظم" دے- د ډيرې زياتې معافئ او بخښنې کولو په وجه د هغوئي رَحْمَةُاللّٰہِ عَلَیْه لقب کاظم (يعني د غصې ښبنلو والا [يعني قابو کولو والا]) شو-

(وفيات الاعيان، 505/4 ـ مسالک السالکين،224/1)

امامِ اهلِسُنَّت، عاشقِ ماهِ رسالت، اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عرض کوي:

شانِ حلماً کانِ علمًا جانِ سلماً اَلسَّلام
موسیِ کاظِم جہاں ناظِم مرا اِمداد کُن

(حدائق بخشش، ص 328)

شرحِ کلامِ رضا: اے زما آقا امام موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ! په تاسو دې سلام وي چې تاسو د عاجزئ او زغم شان، د عِلم خزانه او د سلامتيا ځان ئيئ- اے امام موسیٰ کاظم! تاسو د دُنيا نظام چلوونکي ئيئ، زما امداد اوکړئ-

## عربي شجره

عظيم عاشقِ صحابه او اهلِ بيت، امام اهلِسُنَّت اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللّٰہِ عَلَیْه يوه

اوږده د عربئ شجره شریف، بصیغه درود شریف لیکلي ده، په دې کښې د حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ذِکرِ خیر څه داسې کوي:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ وَعَلَى الْمَوْلَى السَّيِّدِ الْاِمَامِ مُوْسٰى بْنِ جَعْفَرِنِ الْكَاظِمِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا

ترجَمه: اے الله پاکه تهٔ په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې او په سردار او مولا موسیٰ کاظم بن جعفر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِما باندې درود او سلام اولیږې او په هغوئي باندې برکت نازل کړې-

(تاریخ و شرح شجرهٔ قادریه برکاتیه رضویه، ص 108)

# والدِینِ کریمین

حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اهلِ بیتِ اَطهار د سترګو تور او د عظیم تابعي بُزرګ حضرت امام جعفر صادِق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ځوي او د سلسلهٔ قادریه رضویه عطّاریه 7م پیر او مُرشد دے- د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مور بي بي نوم حمیده بَربَرِیّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها وو- حضرت امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د هغوئي په باره کښې فرمائیل چې زما په ټولو ځامنو کښې موسیٰ کاظم بهترین ځوي دے او دا د الله پاک په ملغلرو کښې یوه ملغلره ده-

( مسالک السالکین، 225/1)

# په شجره قادریه رضویه عطّاریه کښې ذِکرِ خیر

شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت، د دعوتِ اسلامي باني، حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه چې خپلو مُریدانو او طالبینو ته هره ورځ د لوستلو د پاره چې د بزرګانِ دین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم کومه

شجره شریف ورکړې ده، په هغې کښې د امام موسیٰ، د هغوئې د ځوي حضرت امام علي رضا او د هغوئې د والدِ محترم حضرت امام جعفرِ صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم په وسیله داسې دُعا شوې ده:

صِدقِ صادق کا تَصَدُّق صادق الاسلام کر　　　بے غَضَب راضی ہو کاظِم اور رضا کے واسطے

**شرح شجره شریف:** یا الله پاکه! د حضرت امام جعفرِ صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د رښتنولۍ په وسیله! ماته د ایمان سلامتیا عطا کړه او د حضرت امام موسیٰ کاظم او د هغوئې د ځوي حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِمَا په وسیله د غضب فرمائیلو نه بغیر زما نه رضا شه-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ښکلې چې لقب هم هغه شان ئې ذات مبارک

د شهزادهٔ عالي وقار، د حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مبارکې شپې به په عبادت کښې تیریدلې او ورځې به ئې د روژې په حالت کښې تیریدلې، د ډېر زیات عبادت کولو په وجه هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د "عبد صالح" یعني د نیک بنده په لقب سره یادولے شو- د عاجزۍ او زغم (یعني د برداشت د قوت) حالت ئې دا وو چې د هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لقب "کاظم" (یعني د غصې ښنبلو والا [یعني د غصې قابو کولو والا]) د هغوئې پیژندګلو جوړه شوه- د عاجزۍ ئې دا کیفیت وو چې کله به ښوک د هغوئې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مخې

له راتلل نو د هغوئي د سلام عرض کولو نه مخکښې به هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه پخپله وړومبے سلام کولو- که چرې هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته به دا معلومه شوه چې څوک هغوئي ته تکليف رسوي نو هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه به د هغوئي هم ضرورت پوره کولو-

(تاريخ مشائخ قادريه رضويه، ص 156 بتغير)

اے عاشقانِ امام موسیٰ کاظم! زمونږه د امام په عاجزئ او سادګئ باندې دې په لکونو سلامونه وي، کاش! چې مونږه هم د امامِ کاظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په برکت د غصې قابو کولو والا جوړ شو، بيا بيا غصه قابو کول د ډيرو مسئلو د حل کولو او د جګړو ختمولو وجه جوړيږي- د کور او کاروبار د جګړو په سر د اختسو او د غم د اوښکو توئيلو په ځائے غصه قابو کول څو درجې بهتره خبره ده، غصه قابو کول تر ډيرې مودې پورې د غضب په اور کښې د سوزيدو نه بهتر کار دے- د غصې قابو کولو څومره ثواب دے، راځئ! ستاسو د ترغيب د پاره د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو څو فرامين وړاندې کووم-

## د "جنّت" د دريو حرفونو په نسبت سره د غصې قابو کولو په باره کښې درې مبارک حديثونه

(1): د اللّٰه پاک خوږ آخري نبي، مکي مدني، محمدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ما د معراج په شپه په جنت کښې اوچت محلونه اوليدل نو پوښتنه مې اوکړله: اے جبريله! دا د چا د پاره دي؟ عرض ئې اوکړو: د

هغوئي د پاره دي څوک چې غصه خښبي [يعني غصه قابو کوي] او خلق معاف کوي-

( مسند الفردوس، 405/1، حديث: 3011)

(2): د بنده د غصې خښبلو [يعني د غصې قابو کولو] نه هيڅ کوټ زما په نز زيات خوښ نه دے او څوک چې د الله پاک د رضا د پاره غصه اوخښبي [يعني غصه قابو کړي] الله پاک به د هغه زړه د ايمان نه ډَک کړي-

(مسند امام احمد، 700/1، حديث: 3017)

(3): د انسان څه کوټ خښبل د هغه غصې خښبلو [يعني قابو کولو] نه افضل نه دے کوم چې هغه د الله پاک د رضا حاصلولو د پاره خښبي-

(ابن ماجه، 463/4، حديث: 4189)

سُن لو! نقصان ہی ہوتا ہے بالآخِر ان کو نفْس کے واسطے غصّہ جو کیا کرتے ہیں

(وسائلِ بخشش، ص 294)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په سيرت باندې د عمل کولو سره مونږ له پکار دي چې کور، دفتر ته د تللو راتللو په وخت، په لاره د تللو په وخت مسلمانانو ته وړومبے سلام اوکړو، وړومبے سلام کول د حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خوږ خوږ نيکه بابا جان، رحمتِ عالميان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے سُنَّت دے- اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خپل کتاب 550 سُنّت او آداب په 31 صفحه باندې ليکي: وړومبے سلام کوونکے د الله کريم مقرب (يعني نزدې والے موندونکے بنده) دے، وړومبے سلام کوونکے د تکبُّر نه هم بَري (يعني آزاد) دے- د خوږ مکي مدني آقا، د ښکلي مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

ورومبے سلام کوونکے د تکبُّکر نه بري دے- (شعب الایمان، 433/6 ، حدیث: 8786) په کیمیائے سعادت کښې دي: په (ورومبي) سلام کوونکي باندې 90 رحمتونه او په جواب ورکوونکي باندې 10 رحمتونه نازلیږي-
(550 سنتیں اور آداب، ص 31۔ کیمیائے سعادت، 394/1)

مطیع اپنا مجھ کو بنا یاالٰہی سدا سُنّتوں پر چلا یاالٰہی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د سخاوت او کرم عطا

زما د مُرشد، د حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د سخاوت دا حالت وو چې په مدینه منوره کښې به ئې غریبانان لټول او هر یو ته به ئې د شپې د هغه د ضرورت مطابق رقم داسې رَسَوَلو چې هغه ته به پته هم نه لګیده چې دا رقم چا راکړے دے-
(تاریخ مشائخ قادریه رضویه، ص 156)

سُبْحٰنَ الله! سُبْحٰنَ الله! سُبْحٰنَ الله! د الله پاک د نیکانو بنده ګانو خومره ښکلے شان دے، نیکي کول او هغه پټَول د مخلصانو برخه ده ځکه چې د الله پاک نیکان بنده ګان د مخلوق نه د بدل یا د مننې خواهش خو څه طمع هم نه لري، ځکه خو د غریبانانو داسې امداد کوي چې هغوئې ته د خپل محسن (یعني د احسان کوونکي) پته هم نه لګي- الله پاک دې د خپلو مخلصانو په برکت زمونږه هم د اخلاص دولت نصیب کړي- افسوس! ډیر افسوس! مونږه د ځان مینې او د واه واه خواهش د څه هم نه کړو، په جُمات کښې د

پينځه سوؤ، زرو روپو ورکوونکي هم خواهش وي چې زمونږه نوم دې واخستلے شي او دُعا دې اوکړے شي- د جُمات، مدرسې د جوړولو کار مو اوکړو يا مو څه سامان راوړلو او ور مو کړلو نو خواهش مو وي چې لمونځ کوونکو ته زمونږه د کارنامې پته اولګي- يقيناً هيڅکله هم د دې خبرو په وجه په چا باندې د رياکارۍ يا د ځان ښودلو حکم نشي لګيدے خو داسې کوونکو ته پخپله په خپل نيت باندې خامخا غور کول پکار دي چې جُمات، مدرسې ته د ګيزر په ورکولو باندې د خلقو په مخکښې د نوم اخستو سره د دُعا کولو خواهش په زړه کښې ولې راځي يا په جُمات کښې د سختې ګرمۍ په موسم کښې په "اے سي" لګولو باندې په زړه کښې داسې خواهش ولې راځي چې د ټولو په مخکښې زما اعلان اوکړے شي چې دا ما راوړے دے- هم داسې په جُماتونو او مدرسو کښې په عطيه کړے شوؤ څيزونو باندې "د ايصالِ ثواب د پاره" د خپل نوم ليکلو په وخت سل ځله په زړه باندې غور اوکړئ- خدائے دې نه کړي که چرې په نيت کښې فساد (يعنې خرابي) وي نو فوراً توبه کړئ او په خپل عمل کښې د اخلاص پيدا کولو کوشش اوکړئ- په حديثِ پاک کښې دي: "بے شکه په دوزخ کښې يوه دَرَه ده د کومې نه چې دوزخ هره ورځ 400 ځله پناه غواړي، اللّٰه پاک دا دَرَه د مُحَمَّد [صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] د اُمّت د هغه رياکارانو د پاره جوړه کړې ده کوم چې د غيرُ اللّٰه د پاره د صدقې کولو والا وي-"

(معجم کبير، 136/12، حديث: 12803)

د نورو معلوماتو د پاره د مکتبة المدينه د چاپ شوي د امام غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کتاب احياء العلوم په جلد 5 صفحه 255 د ”اخلاص“ باب اولولئ۔ حضور مفتئ اعظم هند مولانا مصطفےٰ رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

نفسِ بدکار نے دل پر یہ قیامت توڑی ‏ ‏ عملِ نیک کیا بھی تو چھپانے نہ دیا

(سامانِ بخشش، ص 72)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب ‏ ‏ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د غريب مرسته (واقعه)

عيسىٰ بن محمد مغيث قرشي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان کړي دي کله چې د هغوئي عمر 90 کاله شوے وو۔ فرمائي ما په ځوانيه کلي کښې د اُمِّ عظام نومي کوهي سره په خوا کښې د هندوانو، بادرنګو او کدّوانو فصل اوکرلو، کله چې فصل تيار شو او د کټ کولو وخت رانزدې شو نو مَلَخانو پرې حمله اوکړه او ټول فضل ئې تباه او برباد کړو، زه د فصل او د دوؤ اوښانو د قيمت لړ کښې 120 ديناره قرضدارے شوے ووم۔ زه په دې پريشانئ کښې ناست ووم چې حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړلو او د سلام کولو نه پس ئې پوښتنه اوکړه: ستا څه حال دے؟ ما عرض اوکړو: زه د ماتې شوې ميوې په شان پاتې شوے يم، مَلَخانو حمله کړې ده او زما ټول فصل ئې خوړلے دے۔ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: په تا باندې څومره قرض دے؟ عرض مې اوکړو: د دوؤ اوښانو د قيمت سره 120 ديناره

قرضدارے يم- هغوئي (خپل ملګري ته) اوفرمائيل: اے عرفه! ابو مغيث له 150 ديناره اوتله، (او اوئې فرمائيل:) مونږه تا له (د فصل نه علاوه) 30 ديناره او دوه اوښان زياتي ګټه درکوؤ- ما عرض اوکړو: اے مبارکه! (برکت والا) دننه تشريف راوړئ! او په دې کښې زما د پاره (د خير او برکت) دُعا اوکړئ، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دننه تشريف راوړلو او دُعا ئې اوکړه، بيا ئې ماته حديث شريف اووئيلو چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "د مصيبتونو نه بچ شوي خيزونه سمبال کيږدئ-"

بيا ما اوښان هم په هغه پټې کښې [په کار] لګيا اوساتل او پټے مې اوبه کړو- الله پاک په هغه فصل کښې دومره برکتونه واچول چې فصل ښه ډير اوشو او ما د هغې نه څه خرڅ کړل او 10 زره ديناره مې اوګټل-

(تاريخِ بغداد، 30/13)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د ژوند ګاډے د مسئلو په ټائرونو باندې ګرځي، عقلمند هغه دے خوک چې د ژوند د سختو حالاتو سره د مقابلې کولو کوشش کوي، د ژوند په ستونزو باندې د لعنت وئيلو سره هيڅ نه کيږي د الله پاک په بارګاه کښې سر ښکته کړئ ځکه چې په بے قراره زړه د دُعا کولو سره مسئلې حل کيږي- په ګهنټو ګهنټو د مُلک، په سماجي او معاشرتي اړخونو باندې صِرف د بحث کولو په ځائے وړاندې راشئ او د يو غريب مسلمان ملاتړ اوکړئ او د خپل وَس مطابق د هغه مالي او ځاني مرسته اوکړئ- د نورو خلقو مسئلې حل کړئ ستاسو مسئلې

به هم حل کیږي- الله کریم! دې مونږ له د امام موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه په سیرت مبارک باندې د تللو توفیق راکړي-

اٰمِیْن بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب     صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مُرادونو پوره کیدلو دروازه

زما آقا او مولا، حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه مستجاب الدعوات خو هم وو (یعني د هغوئي دعاګانې به قبلیدلې بلکه) چا چې به د هغوئي په وسیلې سره دُعا کوله یا په هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه باندې به ئې دُعا کوله د هغوئي مرادونه به پوره کیدل د هغوئي خالي لَمَنې به هم د زړه د مُرادونو د پوره کیدو نه ډَکیدلې، په دې وجه به د عرق اوسیدونکو هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه ته بابُ الحوائج (یعني د ضرورتونو پوره کیدلو دروازه) وئیله-

(تذکرۂ مشائخ قادریه رضویه، ص 155۔ صواعق المحرقه، اردو، ص 674)

## د دُعا د قبلیدو آزمائیلے شوے مقام

د کروړونو شافعیانو امام، حضرت امام محمد بن ادریس شافعي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه فرمائي: د حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه مزار شریف ته حاضریدل او دعا کول په قبلیدو کښې مُجَرَّبه (یعني آزمائیلے شوې) ده-

(لمعات التنقیح، 215/4)

د فقهٔ حنبلي ډیر لوئي امام حضرت امام خلّال رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْه فرمائي: ماته چې کله هم څه اهم کار راپیښ شي، نو زه د حضرت امامِ موسیٰ کاظم بن جعفر

صادق ( رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِما ) مزار ته حاضر شم او د هغوئي وسيله وړاندې کړم-
الله پاک زما سخته آسانه کړي او زما مُراد پوره کړي-

(تاريخ بغداد، 133/1)

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د والد صاحب مولانا نقي علي خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د
کتاب " اَحْسَنُ الْوِعَالِآدَابِ الدُّعَا" د اُردو نوم "فضائلِ دعا" دے، هغوئي د دې
کتاب په باب امکنهٔ اجابت "يعني هغه مبارک ځيونه په کومو کښې چې
دُعاګاني قبليږي، په دې" کښې 36م ځائے د حضرت امامِ موسیٰ کاظم
رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مزار مبارک ليکلے دے-

(فضائل دعا، ص 137)

بھکاری بن کے اس دَر پر جو مانگوگے وہ پاؤ گے
کہ اَربابِ نظر بابِ اِجابت اس کو کہتے ہیں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آلِ نبي د نبي د صحابهٔ کرامو سره مينه

اے عاشقانِ صحابه او اهلِ بيت! په دواړو جهانونو کښې د خلاصي مونډلو د
پاره د صحابهٔ کرامو او اهلِ بيتو سره مينه او محبت کول ضروري دي،
معاذ الله که چرې په دوئي کښې د چا په باره کښې هم په زړه کښې څه
کمزورې خبره راغله نو د ايمان د تباهئ وجه جوړيدے شي، د دې دواړو
حضراتو محبت به جنّت ته بوځي- په حديثونو مبارکو کښې چې چرته
"اَصۡحَابِیۡ کَالنُّجُوۡمِ،فَبِاَیِّھِمۡ اِقۡتَدَیۡتُمۡ اِھۡتَدَیۡتُمۡ يعني زما صحابه د ستورو په شان دي،
په دوئي کښې چې د چا هم اقتدا [يعني په دوئي پسې روان شئ] اوکړئ

هدایت به بیاموموئ-“ (مشکوٰۃ المصابیح، 414/2 ، حدیث: 6018) اوفرمائیلے شول، هلته په حدیث شریف کښې دا هم دي:

مَثَلُ اَهْلِ بَيْتِىْ فِيْكُمْ مَثَلُ سَفِيْنَةِ نُوْحٍ مِنْ قَوْمِهٖ مَنْ رَكِبَهَا نَجَا وَمَنْ تَخَلَّفَ عَنْهَا غَرَقَ

یعنې په تاسو کښې زما د اهلِ بیتو مثال د نوح د کشتئ په شان دے، څوک چې دې ته اوختلو، هغه خلاصے اوموندلو او څوک چې وروستو پاتې شو هغه هلاک شو-“

(مستدرک، 132/4، حدیث: 4774)

صحابہ ہیں سب مِثلِ انجم دَرَخشاں
سفینہ ہے اُمّت کا عِترت نبی کی

(قبالۂ بخشش، ص315)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ورور شان

د حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه د یو ورور نوم محمد بن جعفر رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه وو، هغوئي هم د ډیر اوچت شان او مرتبې والا وو، بهادر، عقلمند او د اُمَّت خیر خواه وو- هغوئي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه به صومِ داؤدي یعني یوه ورځ روژه نیوله او بَله ورځ به ئې ماتوله- هغوئي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه په شعبان المعظم کښې په جُرجان نومې ځائے کښې د دې دنیا نه سفر اوکړلو-

(سیراعلام النبلا، 426/8)

## عبادت او ریاضت

په روایت کښې دي چې حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه به همیشه ټوله

شپه نفل لمونځ کولو تر دې پورې چې د سحر وخت به شو- هغوئي به دا دُعا ډیره زیاته کوله: اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْاَلُكَ الرَّاحَةَ عِنْدَ الْمَوْتِ وَالْعَفْوَ عِنْدَ الْحِسَابِ یعني اے الله پاکه! زه ستا نه د مرګ په وخت د آسانئ او د حساب په وخت د معافئ سوال کووم- یو ځل هغوئي مسجدِ نبوي شریف ته راغلل او د شپې په شروع کښې ئې سجده اوکړه نو واوریدلے شو چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سجدې په حالت کښې د الله پاک په بارګاه کښې عرض کوي "عَظُمَ الذَّنْبُ عِنْدِی، فَلْيَحْسُنِ الْعَفْوُ مِنْ عِنْدِكَ" زما ګناهونه ډیر زیات شوي دي ځکه اے الله پاکه! ستا د طرف نه معافي هم دومره زیاته پکار ده- هغوئي دا وئیل تر دې پورې چې سحر شو-

(تاریخ بغداد، 13/ 29 ـ سیر اعلام النبلاء، 448/6)

فضل کر رحم کر تو عطا کر اور مُعاف اے خدا ہر خطا کر
واسطہ پنجتن پاک کا ہے یا خدا تجھ سے میری دُعا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په قید کښې هم عبادت

حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې معاذ الله کله قید کړے شو نو د هغوئي د شپې ورځې د معمولاتو مبارکو لیدلو والا وینزې بیان دے چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د ماسخوتن د لمونځ کولو نه پس د الله پاک په حمد او ثنا (یعني د تعریف او توصیف بیانولو) کښې مصروف وو او بیا به ئې دُعا کوله، د شپې د ډیرې برخې تیریدو نه پس به هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اودریدل او تر

سحره پورې به ئې لمونځ کولو، د سحر د لمونځ کولو نه پس به ئې د الله ذِکر کولو تر دې پورې چې لمر به راوختلو بيا به د ضحوهٔ کبرئ پورې مراقبه کيدلو، بيا به ئې د څه وخت پورې د ډېې وهلو نه پس مسواک شريف کولو او ډوډئ به ئې خوړله او بيا به ئې تر څه وخته پورې د آرام کولو نه پس اودس کولو او نفل لمونځ به ئې کولو تر دې پورې چې د مازيګر لمونځ به ئې ادا کړو بيا به ئې د قبلې طرف ته مخ کړو او د الله پاک ذِکر به ئې کولو تر دې پورې چې د ماښام لمونځ به ئې ادا کړو بيا به ئې د ماښام او د ماسخوتن په مينځ کښې هم نفل لمونځ ادا کولو- وينزه وائي: چې هغه خلق ډير بد نصيبه دي څوک چې داسې نيک کَس پريشانه کوي-

(تاريخ بغداد، 33/13)

## په الله پاک باندې د توکل بهترين مثال

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د نورو خاصيتونو سره سره حضرت امامِ موسىٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د توکل علي الله ”يعني په الله پاک باندې د باور“ په ډيره اوچته درجه باندې وو، په ظلم باندې د قيد کيدو په وجه اګرچه چاته د خوشې کولو د پاره وئيل د توکل خلاف نه وو خو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به په خپلو معمولاتو مبارکو کښې د الله پاک نه علاوه چاته هم وئيل نه خوښول-

ځکه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وخت د خليفه په نوم يو داسې خط اوليکو کوم چې د هغوئي د جراءت ښکاره ثبوت دے: هغوئي خط اوليکو: اے خليفه! لکه څنګه چې زما د ازميښت ورځې تيريږي داسې ستا د عيش او آرام

ورځې هم کميږي تر دې پورې چې مونږ دواړه به په يوه داسې ورځ (يعني په قيامت کښې) ميلاؤيږو کله چې به غلط کارونو کولو والا په نقصان کښې وي-

(سير اعلام النبلاء، 450/6)

## په خوب کښې د رسول الله ﷺ ديدن

د حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قيد تيرولو په ورځو کښې يوه شپه هغوئي په خوب کښې د الله پاک د خوږ آخري نبي، مکي مدني محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: اے موسیٰ! ته په ظلم سره په قيد کښې ئې، زه درته يو څو ټکي ښائيم، که چرې ته دا اووائې نو ته به هم په ننۍ شپه د قيد نه خوشے شې، هغه ټکي دا دي:

يَا سَامِعَ كُلِّ صَوْتٍ، وَيَا سَابِقَ الْفَوْتِ، وَيَا كَاسِيَ الْعِظَامِ لَحْمًا وَمُنْشِرَهَا بَعْدَ الْمَوْتِ، اَسْاَلُكَ بِاَسْمَائِكَ الْحُسْنٰى وَبِاِسْمِكَ الْاَعْظَمِ الْاَكْبَرِ الْمَخْزُوْنِ الْمَكْنُوْنِ الَّذِیْ لَمْ يَطَّلِعْ عَلَيْهِ اَحَدٌ مِّنَ الْمَخْلُوْقِيْنَ، يَا حَلِيْمًا ذَا اَنَاةٍ لَا يَقْوٰى عَلٰى اَنَاتِهِ، يَا ذَا الْمَعْرُوْفِ الَّذِیْ لَا يَنْقَطِعُ اَبَدًا اَوْ لَا يُحْصٰى عَدَدًا، فَرِّجْ عَنِّیْ-

”ترجَمۀ: اے هر آواز اوريدونکيه! اے د هرې نه رسيدو نه مخکښې کيدونکيه! اے په هډوکو باندې د غوښې اچولو او د مرګ نه پس د هغه (هډوکو) يو ځائے کوونکيه! زه تاته ستا د ټولو ښه نومونو او ستا د هغه لوئي اسمِ اعظم په وسيله سوال کووم، کومه چې پټه خزانه ده د کومې نه چې په مخلوق کښې (ستا د عطا نه بغير) څوک هم خبر نه دي، اے حِلم

والا! حلمتیا کولو والا چې د داسې حلیمئ د کومې چې د بَل چا طاقت نه وي، اے د نه ختمیدونکو بے شمیره خیر [ورکولو] والا! زما مصیبت ختم کړه-"

(وفیات الاعیان ، 504/4 ملخصا)

## د والدِ محترم په سرو زرو لیکلې نصیحتونه

حضرت هیثم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضرت امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو شاګرد ماته اووئیل چې یو ځل زه د هغوئي په خِدمت کښې حاضر شوم نو د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د زړه ټوټه حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغوئي په خِدمت کښې حاضر وو او هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي ته نصیحتونه کول چې اے زما ځویه! زما نصیحت اومنه او زما خبرې یادې ساته که چرې دا یادې اوساتې نو ژوند به دې هم ښه تیریږي او مرګ به دې هم د رَشک قابل وي-

اے زما ځویه! مالداره هغه دے کوم چې د الله پاک په تقسیم باندې رضا وي او خوک چې د نورو په مال باندې نظر ساتي هغه هم د غریبئ په حالت کښې مري- د الله پاک په تقسیم باندې نه رضا کیدو والا لکه چې په الله پاک د هغه په فیصله کښې تور [تهمت] لګوي- خپله غَلطي وړوکي ګنړلو والا د نورو غلطي غټه او د نورو غلطي وړه ګنړلو والا خپله غلطي غټه ګنړي-

اے زما ځویه! د نورو د عیبونو راښکاره کونکي خپل عیبونه ښکاره کیږي- د چا د پاره ګنده کښنستلو والا هم پخپله په هغه [ګَنده] کښې

پريوځي- د کم عقلو سره کښيناستلو والا سپکيږي او ذليله کيږي خو د علمائے کرامو سره ناسته پاسته کوونکے عزت بياموي او د ګناه ځائے ته تلونکے د ګناه په تور کښې اخته کيږي- اے زما ځويه! په خلقو باندې د عيب لګولو نه ځان ساته ګنې نو خلق به په تا باندې عيب لګوي او د فضول خبرو نه ځان بچ ساته ګنې د دې په وجه به ذليله او رسوا شې- اے زما ځويه! حقه خبره کوه که هغه ستا په حق کښې وي او که خلاف ځکه چې تهٔ کيدے شي چې د خپلو ملګرو د غندنې [مذمَّت] سره مخ شې- اے زما ځويه! د قرآنِ کريم تلاوت کوه، سلام عام کوه، د نيکئ حکم کوه او د ګناه نه منع کوه، د خپلوئ پريښودونکو سره خپلوي قائمه ساته، څوک چې ستا سره خبرې نه کوي د هغوئي سره په خبرو کولو کښې وړومبے والے کوه، څوک چې ستا نه [څه] غواړي هغوئي ته عطا کوه، د چغلخورئ نه ځان ساته چې دا په زړونو کښې بغض پيدا کوي- د خلقو عيبونه مه لټوه چې دا څيز خپل ځان د (غندنې او تهمت د) هدف جوړولو په ځائے دے- اے زما ځويه! که چرې د نيکئ طلب ګارئي نو د دې مَعادِن (يعني زره يا مرکز) خامخا اوپيژنه، بے شکه د نيکئ مَعادِن دي او د مَعادِن څه اصلي (جرړه) وي او اصلي ښاخونه وي او د ښاخونو سره ميوې هم وي او ميوې د خپلو اُصولو سره ښه وي او جرړه هغه وخت مضبوطه وي کله چې زمکه ښه وي-

اے زما ځويه! که چرې د ملاقات خواهش لرې نو د نيکانو خلقو سره ميلاؤيږه، د فاسقانو او فاجرانو سره مه ميلاؤيږه ځکه چې فاسقان او فاجران د کاڼي د هغه غر په شان دي د کوم نه چې اوبه نه راووځي، د

داسې وَنو په شان دي کومې چې نه شنې کيږي، د هغه شاړې زمکې په شان دي په کومه کښې چې ګیا [واښه] نه راټوکيږي-

حضرت امامِ علي بن موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: حضرت امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا وصيت اوکړو او هغوئي وفات شول او زما والدِ محترم حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تر آخري وخته پورې په دې وصيت باندې عمل کولو-

(حلية الاولیا، 228/3)

## شهادت

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د يو روايت مطابق هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د 55 کالو په عمر کښې وفات شول- (تذکره مشائخ قادريه برکاتيه، ص84) په 25 رجب المرجب 183ھ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د شهادت مرتبې ته اورسيدل- د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار شريف په بغدادِ معلّي کښې په کاظمين شريف کښې دے-

(تذکره مشائخ قادريه رضويه، ص163۔ تاريخ بغداد، 33/13)

علامه خطيب بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د هغوئي مزار شريف ډير مشهور دے، زيارت کوونکي د حاضرئ د پاره راځي، هلته د سرو او سپينو زرو قنديليونه [فانوسونه] او د هر قسمه قالين او ښکلا څلا څيزونه دي-

(وفيات الاعيان، 505/4)

## د امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمان

د حضرت امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه جانشين او خليفه، حضرت امام علي رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل والدِ محترم فرمان بيانوي چې کله دنيا د انسان طرف

ته متوجه شي نو هغه له عارضي خوبياني ورکوي او کله چې د چا نه مخ اړوي نو د هغه نه د هغه خپلې خوبياني ورېي-

(سير اعلام النبلاء، 249/8)

## د امامِ موسیٰ کاظم رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه منقبت

عشق ہے جن کا ہم پر لازم
موسیٰ کاظم موسیٰ کاظم

ہم ہیں جن کے در کے ملازم
موسیٰ کاظم موسیٰ کاظم

جُود و سخا ہے شان تمہاری
عفو و کرم ہے کام تمہارا

ہم بھی رہیں گے سائل دائم
موسیٰ کاظم موسیٰ کاظم

چودہ برس تک جیل میں ٹھہرے
ظلم کو سہتے کچھ نا کہتے

یوں کہتے ہیں تم کو کاظم
موسیٰ کاظم موسیٰ کاظم

آلِ نبی سے بغض و عداوت
کرنے والوں پر ہو لعنت

غرق ہوئے ہیں تیرے شاتم
موسیٰ کاظم موسیٰ کاظم

جس کا کوئی کام رُکا ہو
مشکل کیسی سر پہ کھڑی ہو

آؤ اُجاگر بن کے خادم
موسیٰ کاظم موسیٰ کاظم

(شاعر: مولانا نثار علی اُجاگر صاحب)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دراروانيءَ هفتي رسالہ





فيضانِ مدينه، محلّه سوداگران، زره سبزي منڊهي ڪراچي

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com